مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوڅ مرادزی
۲۰۲۰ / ۰۸ / ۲۹

# ایا عبدالله د سولې مشرۍ ته وړ کس دی؟

پښتو کې ډېر عام متل دی،« غوښه يې په پیشو سپارلې»، ایا عبدالله د سولې په چارو کې مشرۍ ته وړ او مناسب کس دی؟ هغه ډله چې عبدالله يې له ځو کلونو راهیسې استازولي کوي، په سوله کې خپلې ګټې وينې؟

عبدالله په کور دننه د هغه ډله چا استازولي کوي چې د هغو ګټه په ګډوډۍ کې ده. عبدالله په حکومت کې د غلو، قاچاقبرو، جنګسالارانو، مفسدينو او ناحکومتي وسلوالو ګروپونو استازی دی او د همدغه ډلو د ملاتړ په برکت، حکومت کې غوړه ونډه لری. دې ډلو او ګروپونو په تېرو لسيزو کې د حکومت په دننه کې ګډوډۍ ته لمن وهلې او د نظام د جوړېدو مخه يې نیولې ده. همدغه ډله طالبانو سره په جګړه کې، مرکزی حکومت، طالبانو ته تر پښو رانیسي او د جګړې د دوام لامل ګرځي!

دا پوښتنه هم بې ځوابه پاتې ده، ایا په حکومت کې د عبدالله او د هغه تباکارې ډلې په غوړ شتون کې د افغانانو په کور جګړه ختمېدای او سوله راتلای شی. ایا د دې ډلې په غوړ واک کې، افغانان د طالب او د دوی د بهرنیو ملاتړو په وړاندې یو موټی درېدای او جګړه ګټلای شي؟

دا هم اورېدل کیږي چې امريکا د خپلو ټاکنو په درشل کې پر اسلام اباد دباو اچولی چې طالبان خبرو ته کښېنوي، ايا د داسي دباو کوم اغيز تر ستړګو کيږي، که هسې تر ټاکنو مخکې يو ټاکنيز پروپاګند دی. بلخوا د افغانانو ټاکنې لانجمنې کول او په پايله کې يې د امريکا په غوښتنه او دباو د سولې بهير مشرۍ لپاره د عبدالله خوښول او ټاکل، خپله د سولې په بهير کې د کړکېچ د دوام لپاره یوه بله پلمه ګڼل کېدای شي.

**دا خبره هم پرځای ده چې په کارغه ښکار نه شي کېدای، د ښکار لپاره د کارغه ټاکل د ښکار د مخنیوي لپاره هڅه او پلمه ده!**

عبدالله تيار نه دی، د سولې په چارو کې د وزير پتوګه د خپل خوره يې محمد مصطفی مستور له ګمارلو تېر شی، ايا د سولې په پار به عبدالله او ډله يې نورو تېرېدنو او قربانيو ته چمتو شي!

دا هم ويل کيږي، د سولې خبرې بايد د جنګ ښکېلو غاړو ترمنځ وشي. له هغه ځایه چې د عبدالله نظارشور او اسلامي جمعيت او طالبان په تېر کې سره جنګېدلي، که خبرې د دوی ترمنځ وشي او توافق رامنځته شی، سوله به ژر راشی. خو طالبان پخپلو ځرګندونو کې **د اوس لپاره** خپل عمده دښمن د ولسمشرغني په مشرۍ مرکزي حکومت بولي چې د مخکيني فورمول له مخې بايد خبرې حکومت سره وکړي، خو دلته بيا وينو چې طالبان د حکومت پرځای غواړي خبرې افغاني ډلو سره وکړي چې هغو کې د عبدالله ډله يې سرکې راځي.

اوس له چا پټه نه ده چې د عبدالله خېلو او طالبانو ترمنځ د پخواني اختلاف سره سره، يوه شريکه موخه او ګډ دښمن شته او هغه ولسمشر غني او مرکزي حکومت دی! د طالبانو د واکمنۍ له نسکورېدو وروسته دوه لسيزو کې هم طالبانو په هغه سيمو کې چې هلته نظارشورا او اسلامي جمعيت واکمن دی، زياتې ويجاړۍ او مرګ ژوبله نه ده رامنځته کړې. د طالبانو د ويجاړۍ موخه په تېر او اوس کې هم ډېره د هېواد سهيلي، ختيځي او سهيل ختيځي سيمې او دلته ميشت ولسونه دي.

د سولې چارو د مشرۍ لپاره د عبدالله ټاکل (دلته د سولې افغان پلاوی موخه نه ده)، طالبانو او د هغو بهرنيو ملاتړو ته په ظاهر کې دا پلمه هم ورکوي چې طالب لوری خپل یو بنسټپال طالب لکه شير محمد عباس ستانکزی د سولې پلاوي مشر وټاکي. دلته هم موخه دا ده چې د سولې بهير ځونه اوږدېدلای او لانجمن کېدای شي، اسره نه کيږي!

حکومت ټينګار کوي چې طالبانو سره سوله کې بايد د«اسلامي جمهوريت» ارزښتونه خوندي پاتې شي. د بهرنيو چارو د وزير ښاغلي اتمر په وينا دی ارزښتونو کې د هېواد خپلواکي، ديموکراتيک نظام، اساسي قانون او بهرنی اړيکي شاملې دي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

عبدالله چې د خپل اصلي کار یعني د سولې په چارو کې د بوختیا پرځای په حکومت کې د خپلو پلویانو په ګمارلو مصروف دی؛ په زیاترو ځرګندونو کې یې داسې وضاحت نه لیدل کیږي. طالبان د عبدالله برعکس پخپلو خبرو کې یو څه وضاحت لري او د سولې په خبرو کې د مرکزي حکومت په وړاندې خپل نیت او دښمني نه پټوي!
البته په دریغ نیولو کې د یادو ارزښتونو په اړه د وضاحت نشتوالی، ناڅاپي پېښه نه شو ګڼلای؛ بلکې دلته هم د ترټرې او ګونګې ژبې شاته، ټاکلې شومې موخې پرتې دي چې باید تر سترګو لاندې وي.
د مرکزي حکومت په وړاندې په اسلامي جمعیت او نظارشورا کې د یو شمېر اشخاصو ښکاره مخالفت او بیا د عبدالله پر محور اغماض او منافقت که یوخوا د سولې په لار کې خنډ دی، بلخوا د جهادي مافیا د بل اړخ د ګلبدین حکمتیار په سرخېلۍ مخالفت هم د سولې په وړاندې حکومت ته په لوی سر درد بدلیږي.
ګلبدین پرون د جمعې د لمانځه په وینا کې د مرکزي حکومت په وړاندې هغه ژبه وکاروله، لکه طالبان او د اسلام اباد رسنۍ یې چې کاروي. ګلبدین ښکاره د اسلام اباد په ګټه چنې وهي او د افغان حکومت بهرنۍ اړیکې په تېره بیا له هند سره د اسلام اباد په زیان بولي. نوموړی افغان اردو ته د هند د ملیشو خطاب کوي او په دې توګه غواړي یوځل بیا د شمال او جنوب خبره رامنځته کړي او په دې خپلاسي شخړه کې ځان د جنوب قهرمان او د پښتنو خواخوږی معرفي کړي.
په حکومت او ټولنه کې سوله غوښتونکي ځواکونه باید د ریښتیني، عادلانه او تلپاتې سولې؛ همدارنګه د تېرو لسیزو د بریاوو او لاسته راوړنو په وړاندې د پرونۍ جهادي مافیا، طالبانو او د دوی د پروني او نني ملاتړي اسلام اباد نویو خنډونو او توطیو ته پام وی او پرینږدي د ۱۹۹۲ کال غمیزه بیا تکرار شي!
پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ